باندې د ټولو نه بهتر خبر يې او د ټولو نه زيات په هغې باندې قادر يې. مونږ ته د مسلمانانو په خپل مينځ کښې جګړه او اختلاف مه راښايې.

اے الله پاکه! مونږ ستا نه سوال کوو چې ته مونږ ته عزت راعطا کړې، په ذِلت کښې مو مه اخته کوې، اوچتوالے راعطا کړې، پستئ [يعنې ذِلّت] ته مو مه غورځوې، زمونږه حمايت اوکړې، زمونږ د پاره د ټولو اُمورو لار رايو ځائے کړې، د دنيا اُمور مونږه ستا تر اطاعته پورې رسوي او ستا په حکم منلو کښې زمونږه مدد کوي او حال دا دے چې د آخرت په اُمورو کښې زمونږه رغبت د ټولو نه زيات دے، په دې باندې زمونږه اعتماد دے او هم د دې په لور مونږ واپس کيدونکي يو. بے شکه دا معامله به هم ستا په مدد سره زمونږ د پاره پوره کيږي او هم ستا په توفيق سره به زمونږ د پاره صحيح کيږي.

اے الله پاکه! هم ستا د پاره د هر څيز بادشاهت دے ته په هر څيز باندې قادر يې. اے الله پاکه! زمونږ په بدنونو او ټولو حالاتو کښې مونږ له کامل عافيت راکړې او زمونږه ټولو دوستانو، اولاد او خپلوانو ته هم پوره عافيت عطا کړې او دا د ټولو مؤمِنانو او مؤمناتو د پاره عام کړې او په مونږ باندې خپل ډير خوښ او محبوب ترين احکام جارې کړې او هغه کوم چې په قرب راکولو او هر قول او عمل کښې زمونږه زيات معاون وي. اے د آوازونو اوريدونکيه! اے د پټو څيزونو نه خبرداره! او اے د آسمانونو حاکمه! په خپل خاص بنده حضرت مُحَمَّد مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم او د هغوئي په آل باندې اوّل او آخر، ظاهر او باطن دُرود نازل کړې، زمونږه دُعا قبوله کړې او زمونږ سره د خپل شان مطابق معامله اوفرمايې. اے د ټولو مهربانو نه زيات مهربانه او اے د ټولو رحم کوونکو نه زيات رحم کوونکيه! (حلية الاولياء، 302/10)

ہاتھ اُٹھتے ہی بَر آئے ہر مُدّعا     وہ دُعاؤں میں مولیٰ اثر چاہیے

(وسائلِ بخشش، ص513)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد